د افغانستان اسلامی امارت

د استخباراتو لوی ریاست

# د چیک پواینټ

# اصول

۱۴۴۳

# د چیک پواینټ اصول :

۱ : په چیک پواینټ کي منظم دریدل !



۲ : د چیک پواینټ په وخت کي له خوراک او څښاک څخه په کلکه ډډه وکړئ !



۳ : له ملکي خلکو سره خبري مه کوئ !



۴ : د چیک پواینټ په وخت کی ځان له ټلیفون سره مه مصروفوئ !




۵ : له خپلو ملګرو سره په اړیکه کي اوسئ !



۶ : موټرونه په کامل ډول چیک کړئ !




۷ : د موټر اسنادونه په مکمل ډول چیک کړی !




د غلط اسناد والا موټر معطل کړی او ترافیکو ته يې معرفي کړی !

۸ : مشکوک کسان په مکمل ډول تلاشي کړی !



۹ : که احیاناً کوم موټر له چیک پواینټ څخه وتښتیدل !




لومړی هوایی ډز وکړی او که ونه دریدل بیا یې ټایر په نښه کړی !

۱۰ : د چیک پواینټ په وخت کې له خوب کولو څخه په کلکه ډډه وکړی !



۱۱ : په کوم موټر کې چې ښځینه وې صرف ډاله تلاشي شي !



۱۲ : هغه نمبر پلیټونه چې مشکوک دي او لیست یې تاسو ته درکړل شوې – ریاست ته یې راولئ !



۱۳ : خپل لمونځونو ته منظم ترتیب جوړ کړی !



داسی چی ۲ نفر لمونځ وکړي ۴ نفره پر څلور لارو اوسي او ۲ نفر نور د لمونځ ګذارو پهره وکړي !

او د دي سربیره خپل ورځنی اذکار مه هیروی !




۱۴ :  د ضرورت په وخت کې له نورو چیک پواینټو سره اړیکه ونیسئ !



۱۵ : له ګزمې سره پوره همکاري وکړئ !



۱۶ : خپل وخت ته ډیر پام وکړی !



وخت او زمان مو په ښه بڼه مدیریت کړی !

خپل وخت په بي ځایه خبرو او بي ځایه کارونو مه تیروی !

تل له هر کار سره په ښه ترتیب سره مخته لاړ شی !

وخت تر سرو زرو هم قیمتي ده نو ښه ګټه تر پورته کړی !

هر کار پر خپل وخت او زمان سره وکړی !

**١٧ : پام مو وي چې دې ټولې نړۍ سترګې ستاسو يو غلط حرکت ته دې تر سو له يوې معمولي خبره څخه لوې سرخطونه جوړ کړي !**



**پام مو وي چې د چيک پواينټ په وخت کې غلط حرکت ونه کړۍ !**

**خپل تلاشی کول – منظم خبری کول – ښه چلند کول – منظم دريدل – ښه اخلاق مو د مسووليت تر ټولو لوړ پړاو کي کيږدي.**

۱۸ : د شپی نوم څه شي ده او کله کارول کيږي ؟!

د شپی نوم هغه دوه پټ نومونه دي چې د مشرانو له خوا ټاکل کيږی او د شپې له خوا د دوست او دښمن د پيژندلو په موخه کارول کيږي .

کله چې د شپې له خوا د مسوولينو کوم موټر چيک پواينټ ته راځی نو تاسو د شپی نوم پوښتنه کوۍ !


احمد

که چيري نوم يې صحيح وښود تاسو به ځواب ورکړۍ !

محمود

که چيري نوم يې زده نه وو – معطل يې کړۍ او ګزمې ته خبر ورکړۍ !

۱۹ : چیک پواینټ کې له عکس اخیستلو څخه په کلکه ډډه وکړۍ !



۲۰ : د مشکوکو اشخاصو مکمل اسناد او تذکره وکتل شي !



۲۱ : ریکشا ګاني په مکمل ډول تلاشي کړې او د مالک اسناد یي مکمل چیک کړې !



۲۲ : که چیري مو مجرم کس لاس ته راغي – لاسونه یي ولچک کړې او ریاست ته یي راولې !




۲۳ : پوډري – غل او لُچک خلک قوماندانۍ ته معرفي کړئ !







۲۴ : د مشکوک کس مکمل بدني تلاشي سربیره ټلیفون يې هم چیک کړئ او په ټلیفون کې مو پام وي چې ارتباطي پروګرامونه لکه : واټساپ – مسنجر – فسبوک – ټلیګرام او پټ پروګرامونه یې هم چک کړئ !



۲۵ : د چیک پواینټ په وخت کي د ترانې له اوریدلو څخه ډډه وکړی.او مکمل پام مو خپل مسوولیت ته وي !



۲۶ : تل مو خپل قربانۍ سترګو ته ونیسی.او خپل مسوولیت سره به ډیر احتیاط کوی.او ۲۴ ساعته خپل مسوولیت ښه والی ته فکر وکړی !



۲۷ : هڅه وکړئ چې تل مو قیافه منظم وساتئ چې دا ستاسو بوټانو ته هم مربوط کیږي !




۲۸ : د داعش ډلی او نورو غیر مسوول وسله والو د نیولو په موخه خپل د چیک پوائینټ له ساحه څخه ۳ نفره ۱ کیلومتري پوري ګزمه وکړئ – خاصتاً د شپې لخوا !



۲۹ : په بیړنۍ او عاجل حالت او د خطر په وخت کې مستقیماً له ریاست سره اړیکه ونیسۍ !



۳۰ : د هغو کسانو چې نوم – عکس – د ریکشا پلیټ – د موټر پلیټ – د موټرسیکل پلیټ او یا هم نوري نښې تاسو ته در کړل شوي د نیولو ډیر زیات هڅه وکړۍ !



## کوم کارونه چي باید ونه کړۍ :

۱ – په چیک پاینټ کی بی توجهي د بیګناه خلکو د وژلو په معنا ده بي توجهي او بي احتیاطي مه کوۍ !

۲ – له خوب کولو – خندا کولو او ډیر خوراک او خبرو کولو څخه په کلکه ډډه وکړۍ !

۳ – د بیګناه خلکو د ځورولو څخه ډډه وکړۍ !

۴ – خپل مشکلات ځان سره یادداشت کړۍ او دا مشکلات د مسوول کس پرته له بل چا سره مه شریکوۍ !

۵ – خپل ټول فکر او هوش مو صرف د چیک پاینټ پر ساحه کي متمرکز کړۍ او بل ځای سوچ او فوکس مه کوۍ !

۶ – له بی ځایه مصرف او اصراف څخه په کلکه ډډه وکړۍ !



**کوم کارونه چې باید وکړئ :**

**۱ – په چیک پاینټ کې له ماسک څخه ګټه واخلئ !**

**۲ – تل بیداره او چالاک عمل وکړئ !**

**۳ – د شپې لخوا هڅه وکړئ چې په داسې ځای کې ودریږئ چې تاسو ټول ځای ووینئ خو څوک تاسو ونه وینې !**

**۴ – خپل اذکار او لمونځونه په وخت سره ادا کړئ !**


**۵ – له ملکي خلکو سره ډیر زیات سنه چلند وکړئ !**

**۶ – له زیاتو خبرو کولو څخه ډډه وکړئ !**

**۷ – تل خپل د چیک پاینټ ملګرو سره په هر کار کې مشوره وکړئ او خپل نظریات له یو بل سره شریک کړئ !**




## د موټرونو او نورو وسایطو د حرکت مسیر نقشه :



پر یو څلور لاري باندي اته لاري له څلورو خواوو څخه راغلي داسي چي که تاسو پر یو څلور لاره باندي ودرېږي دوه لاري ستاسو ښی لوري څخه ـ دوه لاري مو له مخامخ څخه ـ دوه لاري مو له چپ لاس څخه او دوه لاري مو له شا لوري څخه راغلي دي چي په هر دوه لارو باندي دوه دوه ملګري درېږي چي اته ملګري کېږي او یو ملګری تل د موټر په باډۍ کي د پیکاه د ساتلو او پر موټر باندي د ترصد مسوولیت لري او هر ملګری تل باید خپل مسوولیتونو ته پابند اوسي.


د چیک پواینټ ډولونه په لاندې ډول دي :

لومړي : څلور لارې چیک پواینټ .





دا چیک پواینټ د دایمي امنیت او د ملکي خلکو د ډاډ لپاره یو ساحه کې جوړیږي، په پورتني تصویر کې آسماني رنګه ټکي د ملګرو چیک پواینټ کې د دریدلو ځایونه دي او د موټرونو د حرکت مسیر هم په ویکتور باندې تاسو ته درښودل شوی او پام مو وي چې پر هر سړک باندې یو ملګری موټر ودروي او بل ملګری پوښتنه ترې وکړي او په مکمل ډول هم نفر تلاشي کړي، هم موټر تلاشي کړي او د نفر تذکره او د موټر اسناد دي هم وګوري.

دویم : عاجل چیک پواینټ .




کله چي پر کوم ځاي چاپه وي او یا د کوم مشکوکه ساحي راپور راشي نو د چاپي ټیم په ساحه کي کار پیلوي او د موټرونو، پیاده وګړو او د نورو وسایطو د کنټرول او مشکوکه ساحي څخه د مشکوکو افرادو د نه وتلو په موخه، عاجل چیک پواینټ په پورته ډول جوړیږي تر څو د عملیاتو په ساحه کي غیر مربوط کسان د ننه او یا هم د ساحي څخه ونه وځي، عاجل چیک پواینټ د عملیاتو د پیل څخه یو ساعت مخکي شروع او د عملیاتو له ختم څخه یو ساعت وروسته ختمیږي.


دریم : د لویي لارې چیک پواینټ .




د لویه لارې چیک پواینټ په داسې ځای کې جوړیږي چې هغه د دوه ولسوالۍ ګانو او یا دوه ولایاتو د وصل سړک وي او د راپور پر بنسټ د دوو الی اتو ساعتونو په موخه پر داسې ځای کې چې بل فرعي سړک هلته نه وي .

لکه : د جلال آباد ــ طورخم لویه لارې چیک پواینټ د لویه لارې د چیک پواینټ ژوندی مثال دی .

# چیک پواینټ څه ته وایي ؟ !



د نظامی منسوبینو منظم دریدل
په یو مشخص څلور لاري او
یا هم په یو لویه لاره باندي
ته چیک پواینټ ویل کیږي !